# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه




## ۲۱مه ګڼه ۲۰۰۰ کال

## Jahrg./vol:2000/14 nummer/ no: 21

## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN**
**PARTEI DER PASCHTUNEN Paschtunchwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan**



www.pashtoonkhwa.com

pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI

RICHARDSTR. 5

50389 Wesseling - Germany

Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion :د خپرونې جرګه

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسيد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپې |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستورى اپسپزى |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |




د لوی خدای (ج) په نامه

| سرليکونه | ليکوال | مخ |
|---|---|---|
| کوه قاف کښې اصلي لوبه د .... | علي خان محسود | ۲ |
| د روم غـــونــــډه | عطامحمد شيرزى | ۱۰ |
| ژبه پښتو کړه چې .... (شعر) | مبارز ځاپى | ۱۸ |
| شـــــعـــــر | ډاکتر کبير ستورى | ۱۹ |
| يکه‌زار (شعـر) | محمداجان يار | ۱۹ |
| نـــوى زړى | خبريال: نصير ستورى | ۲۰ |
| حاجي سيف الدين خان | شاه محمود مياخيل | ۲۸ |
| غـــزل | عزيز سرشار | ۲۹ |
| زړه‌بســـت | ډاکتر ماخان شينوارى | ۳۰ |
| پـريـس ريلـيـز | | ۳۲ |

خپرونکي: د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Paschtunchwa/Afghanistan

Publisher: Pashtoons Social democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa/Afghanistan

زمـــه وار
V.S.I.P.
Responsible for Contents
ډو کتور کبير ستورى
Dr. Kabir Stori
Richard Str. 5
50389 Wesseling
Germany
Tel.: 0049-2236/ 83463
Fax: 0049- 2236/ 841930

Redaktion:

| Editorial Board: | د خپرونى جرګه : |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | عليخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدايت بنګش |
| Mabariz Zapi | مبارز ځاپى |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Abdul–Nasir Stori | عبدالنصير ستورى |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |

اذربائجان ډائریکټ (مستقیم) دترکئ سره برید (سرحد) لګیدوچی دغه کار دایران اوروس دواړو په ضرر وو همدغه وجه وه چه پخوانی K.G.B دارمنیا ټول حکومت دخپلو ایجنټانو په ذریعه قتل کړوچی ددی روغی مخه ونیسی.
اوس روس کوشش کوی چی دچیچنیا نه پس جارجیا کښې دصدر شیوردناټزی خلاف بغاوت جوړ کړی، دده تخته واړوی دامریکی مخالف او ماسکو نواز حکومت په قدرت راولی چی هغه لاره بنده کړی چی کومه باندی دمرکزی اسیا دتیلو او ګیس پائپ لائنو نه تیریږی چی دغه دخضر بحیری دپوری غاړی نه اول باکو اذربائجان ته بیا د اذربائجان نه د جارجیا په لاره دجارجیا دبحیره اسود بندرګاه Adscharien ته وغزوی اوبل دجارجیانو په لاره په ترکی کی دترکی دبحیره روم تر غاړی پوری چی اوس ( دنومبر ۱۹۹۹ ع کال ) استنبول کښې دامریکی صدر کلنټن ترکی صدر سلمان دیمریل جارجیا صدر شیوردناټزی، ازری صدر حیدر علی ئف پدغه قرارداد لاس لیکونه وکړل چی امریکه نه غواړی چی د روس یا دایران دلاری تیر شی ·
اصلی لوبه دتیلو دانرژی ده، پدی اور کښې د کوه قاف مسلمانان سوزی فائده ئی روس او امریکا ته رسی هم دغه وجه وه چی د روس وزیر خارجه د ۱۹۹۹ ع کال د نومبر په اخر کی دایران دوره وکړه په کوه قاف او مرکزی ایشیا کښې د ایران خارجه سیاست د روس د سیاست سره سمون خوری دواړه غواړی چی د امریکی اثراتو مخه ونیسی.
دیرو کتونکو دغه خیال دی چی اسلامی وهابی غورځنګ په کوه قاف کی دسعودی عرب له خوا ملاتړ کیږی ددی دوه وجی کیدائ شی یوه منهبی اوبله اقتصادی؛ په منهبی وجه خوسړی په اسانه پوهیدی شی چی سعودی دایران په مقابله کی په نوی ازادشویو اسلامی هیوادونو کښې دوهابی فرقی پښې ټینګه وی؛ مګر دسعودی عرب اقتصادی سیاست کړ کیچن دی ځنی خلک داسوچ کوی چی سعودی په حقیقت کښې دامریکی ددی هلو ځلو نه خوشحاله ندی چی امریکه دعربو دتیلو په مقابله کښې Alternative لټوی که دمرکزی ایشیا تیل د امریکی په لاس بغیر تکلیف نه ورشی نو امریکه او مغرب کولی شی چی دعربو او ترکیی تیل دخپلو مفاداتو دپاره دیو بل خلاف استعمال کړی دا ځکه چی دامریکی او یورپ دوستی دمفاداتو ده ·
سیاسی پنهتان دغه خیال کوی چی حقیقت کښې سعودی ددغه اسلامی وهابی غورځنګ



ځکه ملګرتیا کوی چی ددی په ذریعه روس په مغرب شکمن کړی، وهابی غورځنګ خلاف قدم پورته کړی او په دی پلمه به د کوه قاف لاره په مغرب وتړل شی او مغرب به مجبور وی چی دعربو تیلو ته کینی چی دغه کښې به څومره حقیقت وی یو خدای ج به په خبروی، نن سبا دهرڅه امکان شته ·
په مرکزی اسیا کښې دامریکی او مغرب دوه لوئی هدفونه دی یو دغه دی چی قدم په قدم NATO دبالکان نه کوه قاف ته پوری کړی · بیا رو رو دچین سرحدته د NATO په جامه کښې ورننږدی شی · قزاقستان، قرغستان، ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان ورو ورو او په چل ول د NATO په جال کښې راولی بیا ددی جمهوریتونو په سرحدونو کښې دچین




خلاف دڅارنی آلات نصب کړی، بیا دچین صوبه سنکیاک کښې ساده مسلمانان داسلام په نوم وغولوی · ترکی نژاده چینی مسلمانان دچین خلاف راپورته کړی چی دچین توجه داقتصادی پرمخ تګ نه Law and order ته واړوی بیا به د انسانی حقوقو او منهبی حقوقو تر نوم لاندی امنیستی انټرنشنل او .N.G.O.S ګرمی کړی هم دغه نمونه به چین د سنکیاک دصوبی دتیلو او ګیس نه بی برخی شی دچین ٦٠٪ تیل او ګیس دسنکیاک په صوبه کښې دی اوبل مقصد ئی دغه دی چی NATO دچین اوروس په منځ مرکزی آسیا



کښې ځملی چی روس او چین دمرکزی ایشیا دتیلو نه بی برخی کړی او دواړه دامریکی او مغرب خلاف اتحاد هم جوړ نه کړی ·
بل پروګرام دامریکی دغه دی چی هند پاکستان او افغانستان دری واړه دخپل سیاسی غرض په خاطر دچین خلاف سره یو کړی خو دی کښې لوی مشکل د کشمیر مسئله ده، تاسو ګورئ چی چالاکو هندوانو دهوارخ معلوم کړو نن ئی خارجه سیاست د مغرب سره په سمون کښې راوړو چی تر پرونه پوری هند دروس ملګری وو، پاکستان دامریکی په دوستی ډیر فخر کولو، مګر نن سبا دامریکی په سترګو کښې د پاکستان هیڅ قیمت نشته · نوازشریف امریکی مجبور کړو، ردعمل ئی دغه وو چی نوازشریف فوجیانو بی روزګاره کړو مګر پاکستانی فوجی او سول بیرو کریسی به تر څو د پیرنګیانو، اروپایانو او امریکایانو مقابله وکړی شی · اخر به پاکستان د هند سره د سیالی نه بغیر جنګ بائیلی · دا ځکه چی مغرب امداد پاکستان ته نه ورکوی نو د پاکستان خو خپل اقتصاد دومره قوی ندی چی دهند سره دفوجی وسلو جوړولو او په اخستلو مقابله دخپلو وسائیلو په ذریعه وکړی اخر به پاکستانی اولس دلوږی نه تنګ شی یو داسی پاڅون به وی چی علاج به ئی نه کرنل او نه ډپټی کمشنر کولی شی هم دی ته هند لمن وهی ځکه ئی اتومی دهماکه (چاودنه) وکړه چی پاکستان کومی پنځه روپی لری په کارتوس ئی خرچی کړی ·
دعه نن سبا چی امریکه طالبانو ته پښې دربوی همدغه وجه ده چی .C. I. A او M. i. 6 غواړی چی زوړ باچا کابل ته راولی ددوی ددی لوئ منصوبی برخه ئی جوړه کړی · دا ځکه چی امریکه ژوندی اسلام نه غواړی داسی اسلام ئی پکار دی چی ددوی ماتحت، بی اداري، او بی غلبو وي چیچل نشي کولی تش ددوئ اقتصادی لنګر کښې دیګونه پاکوی ددوئ دایجنټ رول لوبوی هرهغه اسلامی ګوند ددوی دشمن دی چی ازاد سوچ لری دخپل ملت دابادولو پروګرام لری نو ځکه دوی په یو کانی دوه نه بلکی دری مرغی وژل غواړی:
(۱) دمرکزی ایشیا دانرجی په ذخیرو باندی خیټه اچول ·
(۲) دچین او روس خلاف اتحاد یان یا غلامان پیدا کول چی ددوی په اشارو کار کوی ·
(۳) پدی منطقه کښې دانقلابی او اداری اسلام مخه نیول او دی هدف ته درسیدو دپاره اوز مونږه دغولولو (تیرایستلو) دپاره یورپی حکومتونه او امریکه کله ناکله مصنوعی اختلافات رامینځ ته کړی او مونږ په تماشه کړی ·



دغه نن چی کوه قاف کښې کومه لوبه روانه ده دغه ددوئ ددې لوئ لوبې یوه برخه ده چی پکښې دچیچنیانو دماشومانو ښځو ګانو (زړو) ښځو اوسپوو جودونه دروسی بمونو اوراکټونو خوراک کیږی · نوی نوی وسلی پری ازمائی دمغربی اخبارونو مطابق نوی قسم بمونه پری اچوی چی دغه بمونه اکیسجن Oxygen ختموی که څوک شل ګزه ژور په ځمکه کښې هم وی ژوندی نشی پاتی کیدائی ·



دپښتنو دپولنیز او لسولیز ګوند د ( ٦ اپریل ٢٠٠٠ ) نیټی د غونډی ځني څنډې

# د روم غــونــډه

عطاً محمد« شیرزی »

تیر کال د نومبر په میاشت کی د ایطالی په پایتخت روم کي دافغانستان دمخلوع او مستعفي پاچا محمدظاهر شاه دپلویانو په نوښت دیو څو کسو په ګډون یوه غونډه شوي وه چی د پخوانی پادشاه په یوڅو لنډو خبرو پرانستل شوه او د پادشاه د تــره زوي سلطان محمود په مشری ئی دوه دري ورځـی دوام درلود



په أخر کـي ئي اعلامیـه خپـره کړه چی ګواکـي دوي د افغانستان داوسنیو ستونځو دختمولو دپاره باید د افغانستان د خلکوڅخـه یوي اضطراري لوئي جرګی دپاره باعتبار ه مشران راوبلی او د همدی مقصد دپاره ئي یوه کـمیټـه دراغلو اشخاسو نه وټاکله او ورسره دا آوازي هم خپري شـوي چی رابلـل شوي لویـه جرګه بـه دافغـانسـتان په حدود کی دننه په هغي منطقه کي جوړېږی کوم چی دشمال دتش په نامه متحدو مخالفینو تر تسلط لاندي ده او یوځل بیا د افغانستان دشمالي سیمو او نورو په مینځ کي دنفاق او دښمنیو بل شوي اور ته پکی وه وهي.

نو ښه به داوي چی ددي موضوع په اړوند تیر شو واقعاتو باندي یو نظر واچول شي : کله چی د برطانئي لوئي امپراطوري ته په اول ځل د افغانستان د باتورو بچیانو لخوا د غازي امان الله خان په مشری د آسیا په لویه وچه کی شکست ورکړ شو او یو په بل پسی ئی خپلی مستعمري له لاسه ورکړي نو انګریزانو نه غوښتل چی د هندوستان په ګاونډ کی چی د انګریزانو طلائي مستعمره وه یو قوي او غښتلی مستقل دولت جوړ او و ده وکړی نو دغچ آخستو په خاطرئی د افغانستان په باره کی پلانونه طرح کړل ،لکه څنګه چی وروسته هر چا ته جوته شوه دا پلان شوي طرحي ئي په څلورو ګروپونوچي په لاندي ډول دی تقسیم کړي :

۱ - داغتشاشیونو ګروپ چی په وطن کي امنیت خراب کړی په خلکو کي ویره او بي ثباتي منځ ته راوړی.

۲ - دجاسوسانو او مخبرانو ګروپ چی په مخفي (پټ) صورت دملایانو په جامه کی په



ټول افغانستان کی فعال شوي وه.

۳- دروحانیونو او بارسوخو اشخاص ګروپ چی په ښکاره او مخفی شکل سره ئی دحکومت په ضد فعالیت کولو.

۴- سیاسی ګروپ چی په ظاهر کی د مملکت سیاسی واګی تر لاسه کړی خو په حقیقت کی د انګریزانو له مشوري پرته کار ونه کړي. هـغـه اشـخـاص چی پورتـنـیو څلورواړه ګروپونو کی فعال شوي وه په لاندي ډول دی.

الف - دداړه مارانو او اغتشاش کوونکو ګروپ.

په اول سر کی ئی د خپلو اخستل شو مزدورانو په ذریعه د مشرقي ولایت د شینوارو په منطقه کی ناکراري او بدامنی جوړه کړه او د حبیب الله کلاکاني سره ئی تماس ټینګ کړ.

دسقاو زوي حبیب الله چی د قطعه نمونه په نامه عسکري قواو کی وظیفه درلوده چی پدي وخت کی دغه عسکري ټولګی دنورو عسکری قواو سره د ګوډ ملا په جنګ کی د جنوبی ولایت ته استول شوی وو له خپلی اسلحي سره وتښتیداو د قلعه حاجی په دشتو او غرونو کي شپی ورځي تیر ولی، ده به لاری نیولی او داړه ماري به ئی کوله.

کله چی د حکومتی مقاماتو تعقیب لاندي ونیول شو هغه پیښور ته لاړ او هلته ئي په یوه چاي خانه کي د خپلوانو سره کار کولو په همدغه ځاي کی انګریزی استخبارات د هغه سره په تماس کی شول او هغه ئی په افغانستان کی یوي پراخي بی امنی ته وهڅوه او نقدی مرسته ئی هم ورسره وکړه چی هغه بیرته افغانستان ته دپاړه چینار له لاړي وخوزید او د خپل عادت سره سم ئی په یوه غلا اقدام وکړ چی په غلا کی لاس په لاس ونیول شو او د شرعي محکمي له خوا په یوولسو میاشتو بند محکوم شو خو په مرموز ډول زر له بنده خوشی شو بیا نو حبیب الله د سقاوزوی د شمالي سیمو ته راغی او یو څو نور وطني داړه ماران ئي ځان سره یوځاي کړل دشمالي په سیمه کی ئی داسی اغتشاش اوبد امنی راوسته چی حتی په رڼا ورځ به د خلکو په کورو ورننوتل او د هغه مال به ئی لوټ او غلا کړه بالاخر دا داړه مار دومره قوي شو چی د کوهدامن محلي حکومت ئی هم چور کړ.

حکومت مجبور شو چی د هغه د سر کوبی دپاره عسکر موظف کړی څرنګه چی مخکی هم وویل شول دا پلانونه دانګریزی دولت لخوا ترتیب شوی او د افغانستان په لوړو دولتي مقاماتو او بانفوذو حلقو کی هم دانګریزانو ایجنټان موجود وو چی هغوي هم د سقاو زوي



سره تماسونه ټینګ کړل لکه په اوردو کی جرنیل آفندي او د حضرت شوربازار کورنی او داسی نور ......

۱ - یادونه : کله چی اعلیحضرت امان الله د سردار عنایت الله په نفع پدي خاطر د سلطنت نه استعفا وکړه چی بی مفهومه جنګونو کی د افغانستان د خلکو وینی توي نه شی او مخ په قندهار وخوزید کابل کی سردار عنایت الله د سقاو زوي ته یوه جرګه د حضرت په مشری ورولیږله چی پادشاه استعفا کړی ته هم جنګ بس کړه او د دولت سره همکاري وکړه کله چی دا جرګه باغ بالا ته لاړه چیرته چی د سقاو زوي سنګر نیولی وه حضرت صاحب هغه ته د پادشاهی تبریک ووایه او د جرګی ټولوغړو د سقاوزوی ته بیعت وکړ.

سردار عنایت الله د حضرت په مرسته په انګریزي طیارو کی د خپل بال بچ سره د افغانستان څخه ووت اګر چی د سقاودزوي دپیښور واقعات او انګریزانو سره د هغه د تماس په مورد کي د باخبره منابع او لیکوالو لخوا هم هغه وخت کی لیکنی شوی حتی د هغو چکونو نمبری او د پیښور د ښار د بانکونو نومونه هم واضح شوی وه کوم چی هغه ته نقدي روپی ورکړ شوي وي چی په افغانستان کی زما سره موجودي وی خو متاسفانه اوس ځما په لاس کی نشته.

همداشان دافغانستان ډیرو خلکو دامطالب مطالعه کړی دي خوزه د ملک محمد جان نومی قیصه چی ما ته ئی کړی او زما په مغزو کی پاتی ده دلته بیان کړم : ملک محمد جان سروبی ته نزدی د دوآوي په کلي کي ژوند کاوه هغه ته په کور کلی کی دښمني پیدا شوه او د خپل دښمن نه دغچ آخستو دپاره د خپل کلی کور نه فرار شو او غرونو ته وخوت په غرو کی د سقاوزوي حبیب الله کلاکانی سره آشنا شو دا څکه چی حبیب الله یو غل او داړه مارؤ په کلي کور کی ئی ژوند نشو کولي د حکومت لخوا د تعقیب لاندي وو او د ملک محمدجان سره ئی دومره دوستی او وروروليِ ټینګه شوه چی حبیب الله خپله ښځه« بی بی سنګری» هغه ته وسپارله چی دملک د فامیل سره ژوندو کړی.

دا ښځه تر هغه وخته د ملک محمد جان په کور کي وه چی حبیب الله د پادشاهی په ارګ ورننووت او د پادشاهی اعلان ئي وکړ بیا نو ملک محمد جان د حبیب الله ښځه ارګ ته وروسته "پدغه وخت کي چی حبیب الله پادشاه وؤ د بانفوزو مشهورو کورنیو نه ئی نوري ښځی هم واده کړی وي ددغي ښځی لقب ئی بی بی سنګری کیښودی وو. " او ملک



محمد جان ته ئی ددغو خدماتو په بدل کی دخود مختاره وزیری منصب ورکړ د کمریو او حُسین خیلو د کلو په مینځ منطقه کی د نوراحمدخان لودین ځمکه باغ او کلائی هم ورکړه. نوراحمد خان لودین داحمد علي خان لودین مشر ورور وو. ( احمدعلی خان د نادرشاه او ظاهرشاه په پادشاهی کی د عمر تر پایه دافغانستان دټول اوردو رئس وؤ او د امان الله پادشاه په وخت کی د پروان او کاپیسا رئس تنظیمهٔ چی حبیب الله غل ئی تر تعقیب لاندی وو) نو کله چی حبیب الله پادشاه شو دلودین کورنی څوک بندیان شول او څوک د وطن نه وتښتیدل او نادرخان سره یو ځای د سقاو دزوی په مقابل کی په جنګ کی داخل شول.

کله چی نادرخان پادشاه شونو ملک محمد جان ئی دیوه ځوان زوی سره پر محبس ورد ننه کړ او د محمدهاشم دصدارت تر اخره ئی خپل عُمر په محبس کی تیر کړ. له بنده چی خلاص شو دا قیصه چی پورته ولیکل شوه ما ته ئی کړی وه دا څکه چی ملک محمد جان ځما د ترور دزوی خُسر وؤ او راشه درشه مو ورسره لرله. ګمان کوم چی دا قیصی به تر اوسه د مورخینو له نظره پاتی وی.

ملک محمد جان دسقاو دزوی دا قیصه هم ما ته وکړه چی هغه ته خپله د سقاو زوی کړی وه :

"کله چی زه یوه ورځ کابل ته د تګ په لاره کی د بتې کوټ کلی ته ورسیدم د جمعي دلمونځ د اداء کولو په خاطر مسجد ته لاړم یوه ملا صاحب په مسجد کي وعظ کولو په مسجد کی د ملا صاحب پر ما نظر شو زه ئی خپل حضور ته وغوښتلم او په کراره ئی راته وه ویل چی په لار کي دی یوه ونه راځی دوني بیخ لوخ کړه هر څه چی و هغه واخله ما ته ئی ډیره دوعا وکړه. ما دا کار وکړ، دونی بیخ می لوخ کړ ګورم چی څو میله ټوپک او څه نقدی روپی وي هغه چی می تر لاسه کړی ما ته د ملایانو او ښو خلکو دوعا ګانو له بر کته خداي پادشاهی راکړه".

ب - دجاسوسانو ګروپ چی په مخفی ډول ئی د ملایانو په جامه کی په ټول افغانستان کی فعالیت کاوه ،دغو جاسوسانو د ملایانو په جامه کی په مسجدونو او نورو اجتماعي حلقو کی د دولت په ضد تبلیغات کول پادشاه ئی ددین نه منحرف او نا مسلمان ګاڼه او په مرموز ډول به ئی داغتشاشینو سره کومکو نه کول ،چی حبیب الله د سقاوزوی په خپله د ملایانو کومکونه یاد کړی او له هغونه ئی خوښي څر ګنده کړی ده.

ج - دروحانیونو او باروسوخه اشخاصو گروپ چی په ښکاره او منظم صورت سره ئی فعالیت درلود ،ددی گروپ په سر کی حضرت فضل عمر مجددي نورالمشائخ وه نوموړی چی دګوړ ملا په اغتشاش کی ئی دحکومت په ضد فعالیت درلود حکومت هغه دافغانستان څخه وشاړه په هندوستان کی ئی دانګریزانو تر سیوری لاندي ژوند کاوه اګر چی د هغه جرم سنگین وه دسختی سزا مستحق و وخو اعلیحضرت آمان الله هغه دهغه دمشر ورور حضرت فضل محمد شمس المشائخ مجددی په لحاظ چی یو ډیر نیک شخص و او بانښه او هندوستان ته ئی وشاړلو ٠

نورالمشائخ په تبعید کی هم چی د افغانستا په سرحداتو کی نزدی ژوند کاوه ددولت په ضد ناوړه تبلیغات کول چی بیا د حکومت لخوا د انګریزانو نه وغوښتل شول چی هغه بل ځاي ته انتقال کړی بیا نو دبمبئ علاقي ته انتقال شو کله چی د انګریزانو دپروګرام اوله برخه چی په ملک کی داغتشاش او بد امنی دراوستو پروګرام وو ددوهمی برخی په مرسته موفق شو او حبیب الله دسقاوزوي د کابل په تخت کښیناست چی لا هم امان الله خان په افغانستان کی و دافغانستان داکثره خلکو قومونو رضا نه وه چی دمملکت قدرت یوه غله بی سواده شخص ته پریږدی ٠

دقندهار او نورو سیمو خلکو دهزاره جات دخلکو په شمول ډیری لښکری راجمع شوي او پادشاه د کابل په لور حرکت وکړ او ددریم گروپ دپروګرام دتطبیق وخت و چی دهغه دپاره نادرخان او دهغه کورنی په نظر کی نیولي شوی وه هغه دروحانیونو گروپ سره سم دمملکت سرحدونو ته دبرطانوی هند له لاري چی دانګریزانو حکومت و داخل شول نادر خان اول دخوست نه په فعالیت شروع وکړه او بیا د جنوبي نور قومونه هم ورسره ملګری شول او دروحانیونو گروپ دحضرت نورالمشائخ په مشری دسلیمان خیلو د کتواز علاقی ته ور داخل شو ٠

د کتواز میشته قومونه اکثره دحضرت مریدان وو دهغی منطقي دبارسوخه ملایانو په مرسته ئی تخمینی پینځه زره جنګیالی اماده کړل چی دهغو جنګی مصارفات هم د کتواز د قومونو لخوا تمویلیدل ٠ دغه لښکری په ظاهر کی دسقاو دزوي په طرفداری خو په حقیقت کی دجوړشوی پلان دتطبیق په خاطر دپادشاه امان الله په لښکرو جنګ شروع کړ داوخت دپادشاه امان الله لښکري تر غزنی پوري رارسیدلي وی او خپله پادشاه هم په غزنی کی ووډا



جنګی وضع او نور دځینو ایجنټانو فعالیتونه ووچی په دربار کی دننه دپادشاه په شاه وخوا کی ئی کول پادشاه تصمیم ونیوه چی دجنګ له لاري چی دافغان اولس وینی پکی توئیږی پادشاهی ورته نا مطلوبه ده مملکت یی خوشي اودوطن څخه خارج شو ٠

اوس نو نادر خان دجنوبي قومونو په مرسته دسقاوزوي سره جنګ شروع کړ چی حضرت مجددي هم ورسره ملګری وو او بالاخره د کابل تخت ئی اشغال کړ ٠ کله چی نادر خان پایتخت د کابل ښار دسقاوزوي حبیب الله نه ونیوه حبیب الله په پروان کی د جبل سراج ارګ خپل مقر و ګرزاوه نو نادر خان ته ئی احوال ورکړ چی یو ارګ له تا سره دی او بل ارګ ځما سره دی زه به تر اخره تا سره جنګ وکړم ،نادرخان دقرآن په حاشیه کی ولیکل چی زه ستا سره جنګ نه کوم ته یو باتور اوزړور افغان ئی دخپلو ملګرو سره راشه اود قدر وړ منصب تر لاسه کړه او لدی لاری خپل وطن ته خدمت وکړه نورو ملګرو ته به دي هم منصبونه ور کړل شی ٠

دامهر شوی قرآن دحضرت مجددی په مشری دیوه هیئت په ذریعه چی شامحمود خان دنادر خان وروور هم ورسره وه حبیب الله دسقاوزوي ته ئی جبل سراج ته ورواستاوه چی بیا حبیب الله او دهغه (۱۷) ملګرو دقرآن په خاطر ځانونه نادرخان ته تسلیم کړل خو نادرخان هغه ټول اول په ګولیو سوری سوری کړل او بیا ئی په حضوري چمن کی په کوم ځای کی چی بیا کابل ننداری آباده شوه په دار و زړ ول او خلکو ته ئی وویل چی: ما خو دا خلک عفوه کړی وه خو دجنوبي دوزیرو قوم هغوي دخپلو مړو په بدل کی مړه کړل دا پیښه دنومبر په اوله کال ۱۹۲۹ ع کال کی واقع شوی وه.نادرخان هم حبیب الله او دهغه دملګرو دوژلونه ځان بری ګانه او هم ئی دشمالی او جنوبي اقوامو په مینځ کی دښمنی اونفاق ایجاد کړ چی تر ننن پوری دوام لری٠

همدارنګه دشمالی ځنی خلک چی دسقاودزوي سره ملګری او دهغه په حکومت کی شامل وو دنادرخان دحکومت لخوا دهغوی تعقیب او ګرفتاری شروع شوی چی حق اوناحق ګرفتاریدل ډیر بی ګناه خلک پدغه پلمه محبسونو ته ورواچول شول، چی لدی امله یوه اندازه نا کراري اوبدامنی په هغه سمت کی پیدا شوه چی حکومت په هغه جریان باندی د" سمت شمال دوهم اغتشاش "نوم کیښود اودهغو دسر کوبی اوټکولو دپاره ئی بیا دجنوبي دقومونو مرسته راوغوښته دشمالي اکثر کلي چورچپاول او ډیر بی ګناه خلک ئی



ووژل چی بیا دغه غم لړلي واقعی ته خلکو د"شمالي دتالان کال" نوم ورکړه او تر اوسه په همدغه نوم یادیږي یو ځل بیا دجنوبي او شمالي قومونو په منځ کی دنفاق اود دښمنی اور بل شو٠ نو اوس دغه پخوانی پادشاه محمد ظاهر شاه په شمالي سیمو کی بیاجرګه جوړوی چی پدی سره پخوانی پادشاه بی اتفاقي او ورور وژني ته لمن وهی چی همدا اوس هم د رباني او مسعود دواکداری دلومړنیو ورځو څخه شروع او په شدت سره جریان لري٠ دنادرخان دقدرت رسولو په وخت کی هم دانګریزانو پروګرام داسی ووچی دافغان اولس د میشته وګړو تر منځ دنفاق اور بل کړی ځکه نو په اول کی ئی حبیب الله دسقاوزوي په قدرت ورساوه چی په قوم غیر پښتون وو او بیا نادرخان دپښتون قوم په زور دسقاوزوي په دار وزړاوه، او خپل جاسوسان ئی قزلباشانو څخه انتخاب کړل او دببرک په قدرت رسولو سره روسانو هم له دغه تاکتیک نه کار واخیست او دچړی تیره وژونکي خوائی دپښتون قوم په لور متوجه کړه چی دامطالب خپله دروسانو لخوا هم لیکل شوی دی٠ لاندینی کتابونه د مطالعی وړدی: ۱ ـ په افغانستان کی ربښتیا څه تیریدل

۲- سري لښکری په افغانستان کی ٠ او داسی نور٠٠٠٠٠

همد اوس هم روسان دمسعود اورباني سره هر راز کومکونه کوی چی په افغانستان کی ورورورژني ته داوم ورکړی او افغان اولس دومره وځپی او ضعیف ئی کړی چی بیا داسی څوک نه وی چی دروس هغه ناجایز ظالمانه یرغل په خاطر چی له دوه ملیونو څخه زیات د افغان اولس بچیان ئی وژلی او په ملیونونو نورئی معیوبه کړی اود افغانستان هستي ئی له خاورو سره برابره کړیده روسان بین المللي محکمو ته کش کاندي او دجنګ تاوان ترینه واخلي.

مسعود، رباني او ددوی ګروپ دافغانستان دخلکو ددښمنانو ایجنټان او نماینده ګان دی دوی په هیڅ صورت د افغانستان دخلکو دوستان کیدای نه شی دافغانستان یو اندازه خلک ئی ګراو ګان نیولی او ځنی نور چی ورسره دی له دوی سره دروس په خدمت کی شریک دی٠

په دی مورد کی دظاهرشاه دروسانو سره په اول سر کی یو نظر وه پدي مانا چی مخلوع پادشاه دروسانو په مشوره سردار محمد داؤد ته پادشاهی ورپریښوده اوله پادشاهی نه ئی استعفا وکړه ټولو ته معلومه ده چی له سردار داؤد سره په اوله مرحله کی ببرک کارمل اود هغه ډله ملګری وو کوم وخت چی( پود ګورني )دشوروي د کمونست ګوند عمومی منشی



او مشر کابل ته په رسمی سفر راغی په واضح اوله تهدیده په ډکه لهجه ئی ظاهر شاه ته وویل چی دولتي چاری( واګی )سردار داؤد ته پریږده که نه ملت به په زور دمملکت واګی تر لاسه کړی په هغه صورت کی به بیا مونږ هم هیڅ کومک درسره نشو کولي٠ هم هغه وه چی دپود ګورني دتګ نه وروسته ظاهرشاه بی لدی چی دخپلی ناروغی او خارج ته دتګ اعلامیه خپره کړی په ناځاپي ډول خارج ته سفر شروع کړ پس له تلوئی یو خبر خپور شو چی پادشاه دستر ګی دعلاج دپاره خارج ته لاړ سردار عبدالولي ئی هم له ځانه سره بیوولی وو خپل زوي سردار احمد شاه ئی دپاشاهی دمقام دکفیل اوولیعحدپه حیث ټاکلي وو ٠ پادشاه لا په سفر کی دنورو ورسره کسانو مشغول وه چی سردار عبدالولي کابل ته راغی دلته په کابل کی سردار عبدالولي دکودتا اوازي واوریدي چی لدی درکه ئی تشویش درلود موضوع ئی سردار احمد شاه« دپاشاهی دمقام وکیل» ته ویلی وه، خو سردار احمد شاه هغه ته اطمنا ن ورکړی وه چی خیر خیریت دی معلومیږی چی سردار احمدشاه دموضوع نه هم خبروو٠

سردار عبدالولي په داډه زړه په یوه محفل کي په شرابو مست وودتوپو درزهار ئی تر غوږ شو سردار ولی ګرفتار او بندی کړی شو سردار ولي دداؤد سره ډیره سخته رویه کوله سردار داؤد دخپل انتقام اخستو دپاره هغه یو څو وخته بندي کړ لدی ماجرانه ددربار خلک ټول خبر وو د پادشاه دتګ سره سم دا پورتنی اوازي ددرباریانو لخوا د کابل په ښار کي خوری شوي. که دروسانو دیرغل په وخت کي دپادشاه لاس دروسانو سره یو نه وای په ډیره اسانتیائی کولی شو چی افغانستان ته راشی اود ملک په یو برخه کی دافغانستان دمجاهدینو مشری په غاړه واخلي داځکه چی دروسانو دیرغل سره سم دروسانو په ضد عامه پاڅون لکه څنګه چی دافغان اولس پخوانی عنعنه ده چی دوطن د دښمن په وړاندی سره یو کیږی دشورویانو په مقابل کی دافغانستان دخلکو لخوا پیل شو٠

دافغانستان اکثره سیمي دروسانو نه پاکی وي چی تر اخیره پاکی پاتي شوی اوس دادی یو ځل بیا چی دروسانو ظاهرشاه ته ضرورت دی نو ظاهرشاه دافغان دکشالي په هکله خپله خواخوري اعلاموی اود ملت نه اضطراری لویه جرګه رابولی او هغه په هغو سیمو کی جوړوی کوم چی دروسی دایجینټانو په اشغال کی ده معلومه خبره ده چی پخواني پادشاه رباني او مسعود ته څه امتیازات منلی دی پخوا لدی چی رباني او مسعود د کابل دښار قدرت په لاس

کی وو په هیڅ صورت حاضر نشو چی دپادشاه سره خبري وکړی خو پدی اخیر کی دربانی مسعود نماینده گان دپادشاه پوري مربوطو غونډو کی فعاله برخه آخلي ٠

## ژبه پښتو کړه چې افغان مې شي تن

مبارز" خاپی"

نه د ژړا نـــه دخــندا ســودا ده — ماسره ستا تا سره زما سودا ده
که زه او تـــه ژاړو لــه غــمــه ځـني — غم سره هم زما او ستا سودا ده
غم چې لتاړ دی د پایښت په غم کې — ورته د پیښو خوا په خوا سودا ده
که زه او ته د غم په سوچ کې سوزو — غم سره هم یـوه بلا ســودا ده
غم چې دغم په ډنډ کې ومنډل شی — داسې زما ورته ربښتیا ســودا ده
ښه ده چې غم سره جگړه مووي تل — ددغې ژوند دغه روا ســودا ده
غم چې جگړه راته توده کـړله بیا — په کـلي کور مي د دادا ســودا ده
دغم کارغان چې ځان په غولو لړي — هغوی ته کله دښکلا ســودا ده
دغم چینچارې دی په سوړه کې پټ — ورتــه دبریتو دخوځا ســودا ده
دغم پاړسیان ئي راپه سر ختلي — راته دسرمې دبقــا ســودا ده
دغم پاړسیان به نور په کاڼو ولـو — ورته په سر دپښتونخوا ســودا ده
ژبه پښتو کړه چې افغان مې شي تن — بې ژبې تــن خو ناروا ســودا ده
گوندی پر غم چې نور بری ومومو — که نن ده تیره د سبا ســودا ده
که غواړو ژوند په یو ویشتمې پیړی — په کې دژبـی دهر چا ســودا ده
وطن به څنگه رانه هېر شي کله؟ — لا دخاړپـو خو مې دنیا سودا ده
یواځې سوچ دمور او پلار خونه دی — لامې دنیا اود بابا ســودا ده
هلته ناروغ شته خو درمل نـه شتـه — دهغې رنځ هـغې دوا ســودا ده
؟ملا طالب دمړ یو غم به وخوري — ددی ژوند یـو غـم دچا ســودا ده
" دخاپي" زړه ته شه چې وگورې ځان — په دی هنداره کې هم دا سودا ده



راتــه پا تی لـه لویـانـو دا پـیغــام دی
چې د بل په درناوی کښی دروند مقام دی
که نظر دی خپل اوچت ساتی نو پوهـ شه
چـــې لازم دبـل نـظر ته احتـرام دی
دنیم ډک او د نیم تش جام بیلگه گـوره
چې منفی او هم مثبت رنگ د کلام دی
خیر خواهان وائی جام ډک نیم داوبو دی
بد خواهان وائی نیم تش داوبو جام دی
چې د بل په سپکا وی کی درنښت غواړی
دروند به نه شی تل پدی کار کښی ناکام دی
چې د بل د غلامی سوچ لری سر کښی
ازاد نه دی, دده هم ذهـن غـلام دی
ستوری وائی دامنـلی ټـول جـــهـان دی
خپـلواکی بنیا دی حق دهر یو قــام دی

**ستوری**

---

## یکه زار

محمد اجان (یار)

سندري په نڅا او تاتری په یکه زار شوی — پښتون ټکور غږیږی او شیبی دیـــلا زار شوی
پوهـ نه یم چی نغمه د مستقبل به اخرڅه وی — دیري سپیري پرتي دی حجري لاړی تار په تار شوی
له ستورو سره دروم خو میراته کړه دا زمکه — روان دی ټول په بره، یواځی ته لاندی ایسار شوی
ځانگونه راخواره سپینی کوتری کړه د سولی — راوالوزه چی ستر گی زمونږ ستا په انتظار شوی
ادا خو دی قسم دی چی زما سینه سوری کړه — ریښی زما گریوان دی ته د بل د غاړی هار شوی
یو ځلی خو پیره هم دخپل یار په چمگې راوړه — کړی ئی دواړه ستر گی ستا راتلو ته پدی لار شوی



# نـوی زړی

خبریال : نصیر ستوری

## د پښتنو دټولنیز او لسولیز گوند(PSDP) او دآلمان د سوسیال دیموکرات گوند(SPD) د ملگرتوب دډلی

(Deutsch-Paschtunische Sozialdemokratische Freundeskreis)

## بنسټ په یوه غونډه کی کیښودل شو.

کولن: دغه تاریخی غونډه د ۲۰۰۰ ع کال د جون د میاشتی په ۱۷ نیټه د کولن د ښار د نیپس ( Nippes) په سیمه کی د غرمی نه وروسته په دریو بجو د SPD دفتر کی چی د دواړو گوندونو یو گڼ شمیر مشران او د ترکیی سوسیال دیموکراتان ورته رابلل شوی وو دSPD د گوند د څانگی د مشر ډاکتر گونتر ایکیلی Dr.Günther Jikeliپه ویناپرانستل شوه.

ښاغلی ډاکتر گونتر ایکیلی د پښتنو او آلمانی سوسیال دیموکراتانو د ملـگرتـوب د ډلـی پـه اهـمـیـت خـبـری وکـړی او دائـی د نړی د دیموکراتانو د سیاسی بیداری او قومونو او ملتونو تر منځ د اړیکو د ټینگیدو لپاره یو مثبت قدم وگاڼه. غونډی ته د سوسیال دیموکرات گوند د مشر تابه له اړخه پیغامونـه هـم رالیږل شوی وو چی ددغی شریکی ډلی د راتلونکی لپاره ئی دواړو خواو ته د کامیابی او د گډ کار د ټینگیدو او ودی هیله څرگنده کړی وه.

بیا وروسـی د (PSDP) مشر ډاکتر کبیر ستوری ددغی غونډی د اهمیت په هکله نظر ښکاره کړ او دا غونډه ئی د دواړو سیاسی ډلو لپاره یو بنسټیز تاریخی پړاو وگاڼه.

د (PSDP) مرستیال ښاغلی محمد شیرین گردیوال د افغانستان د جغرافیوی موقیعت، د ټولنی د جوړښت او په پښتونخوا کی د پښتنو او د نورو قومونو د ژبنی تاریخی پس منظر او شمیرنی په هکله یوه مقاله (ریفراټ) تیاره کړی وه حاضرینو ته واورول شوه او زمونږ په ټولنه کی ئی د اسلام او د ښځو په رول رڼا واچوله. د غونډی په



مینځ کی د کولن د ښار د سوسیال دیموکراتانو د مشر مرستیال ډاکتر ویرنر یونگ Dr.Werner Jungخپلی خبری وکړی او دا غونډه ئی یو تاریخی او مهم قدم وگاڼه. د غونډی په پائی کی د Dr.Günther Jikeli په وړاندیز د دواړو سیاسی ډلو لـه لـخوا د شریک کار د پرمختیا او ودی لپاره یو ډلگه گی جوړه شوه چی د SPD له اړخه ډاکتر گونتر ایکیلی Dr. Günther Jekili هایدی بارتوش Heidi Bartosch او ورال ایمره Vural Emre د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند PSDP له اړخه ډاکتر گل حسن ولیزی، محمد شیرین گردیوال او هدایت الله خان بنگښ وټاکل شوو.

غونډه د گډ کار د لازمو تصامیمو د نیولو نه وروسته د مازیگر په پنځه نیمو بجو پائی ته ورسیده.




دپښتنو دټولنیز اولسولیز گوند د( ۱۴ جولای ۲۰۰۰ ) نیټی د غونډی ځني څنډي

# زړښت

ډاکټر ماخان شینواری

**وې چې ستونزو بـــې د اولس لیرې له خیالونو مې**
**نه پرېږدې وجدان مې چې ارام وکړې زړګې زما**

داچې زه کله کله وایم چې زوړیم، فکر کوم چې ګونډې دا ټوکې دي او تواضع. داسې فکر نه کوم چې ګونډې زوړیم، داسې فکر نه شم کولی چې ځواني راڅخه تللې، داسې استعداد زه هم په ځان کې ګورم چې فکر وغولوم. دا استعداد په هر انسان کې شته او هر انسان دخپلې ګټې لپاره دواقعیت څخه ځان لرې کوي. زه له تا نه ډاریږم، راځه! زه چې وغواړم تا نه درک کوم، دا تـــجربه مـــې د کوچنیوالي دځان سره روزلې چې څه مې ښه نه راځـي یـادځـه چې ډاریږم هغه جدي نـه نیسم، مګر دریاندې پوه یم چې ګیردې یم او خلاصون درڅخـه نه شته، خـــوترڅوچې زه دفکر کولو استعداد لرم او زده کــړه کولی شم، ځـــان هم ځـــوان احســاسوم. داکـه زده کړه وي، که دخلکو طبیعت، کـتاب او یـــادژوند تــجــربه وی



خوفــکر ځوان ساتم، تـه مـې تـرڅوچـــې فکر له کاره نه شي بـــا سلې، زه تاته نه تسلیمیږم. که بدن مې له حرکته وباسې لټ مې کړې له منهورامنهو مې وغورځوې، تاثیر دې نه قبلوم. څکه چې فکر کوم او فکر روزم، تاته نه غواړم چې وخت ولرم، له تا غواړم چې وځغلم، بدن مې تاته تسلیم دی مګر کوښښ کوم چې په احساس او فکر مې



برې ونه مومې. نه! داسې نه ده په احساس او فکر مې نه بریالی کیږې، جوار ګرنه یم چې تاسره په دې شرط کیږدم خو دا ځما له تا سره وعده ده، زه لا خوبونه لرم دهیواد لپاره، دهیوادوالو لپاره او همدارنګه دځان او خپل ژوند لپاره چې ددې لپاره باید ځان ځوان حس کړم او فکر ځوان وساتم او دا قدرت په ځان کې لرم چې په دې کړاوونو بریالی کیږم، خوبونه مې خوبونه نه پریږدم، ددې لپاره مې ډیر وخت تیر کړی. دامې ژوند دی، ددی دسرته رسولو لپاره ستا په مقابل کې هم مبارزه کوم ترڅو مې چې تا فکر له ځوانی نه وي غورځولی.

خوزه په دې فکر نه یم چې ګونډې ته به ځما په فکر برې ومومې، ځکه چې ځما فکر له دې هیلو او خوبونو څخه نه شي تیریدلی او ددې هدف په لور به روان وي. که دلاسونو، پښو او نور بدن څخه دا قدرت ووت نو فکر به همداناریږ وهي چې هدف ته رسیدلو لپاره کلک همت، عزم په کار دی او خلک وایي چې "کلک عزم غرونه ړنګوي" نو ته باید په دې باور ولرې چې ستا زور هم ځما په عزم نه بریالی کیږي چه هغه ځما هیلې دي چې دهغو لپاره ژوندی یم. فیلسوفان وایی چې "ترڅوچې انسان زده کړه کولی شي، ځوان دی" او همدارنګه وایي چې دانسان اخرنۍ زده کړه مرګ دی. نو ته ***زړښته*** ځما په فکر هلته بریالی کیدی شې چې مرګ تا ځما له فکر سره غبرګ خاورو ته وسپاري.

**پیښور دې او کـــوټه زمـــا کور دې**
**که کابل که کندهار دې زما ورور دې**
**هر غـاصب چې دې کې خنډ اچول غواړي**
**که د لـر دی که د بـر دې مخ ئې تور دې**

اجمل ختک



جرمني: ۲۳ مې ۲۰۰۰

## پریس ریلیز

**جرمني:** د PSDP مشر ډاکتر کبیر ستوری افغانستان ته دروسیانو دتوغندیو دبریدونو ګواښ وغندو او وویل چې دا ډول بریدونه به بې ځوابه پاتې نه شي او داور لمبې به ئې دروسې خاورې ته په ښټ وروړاورې چې نه یوازې پاتې روسیه به دړې وړې کړې بلکې په ټوله منطقه کښې به داسې بې ثباتي او ناارامي مینځ ته راشي چې د کنترول له به وتلې وې او قابو کیدلې به نه شي. ستوری زیاته کړه چې روسیه زمونږ دپخوانې جګړې دتاوان پوره وړې ده. دروسې جمهور رئیس ولادیمیر پوتین ته پکار دی چې خپل دغه پورور کړې او د روسې اولس نور پوره وړې نکړې.

ده زیاته کړه چې دروسې واکمن ددې هڅه کوې چې دمرکزي اسیانوې خپلواک شوې هیوادونه په بله طریقه دخپل جغ لاندې بیا راولې او دهغو په شتمنیو چې اوس ورته بازار پیدا شوې دی قبضه وکړي. غوره بیلګه ئې دترکمستان غازدی چې دروسې واکمن ئې نه پرېږدې چې د افغانستان دلارې دغاز دخرڅلاو چارې سمبال شي. دیوې خوا دمسعود پواسطه په افغانستان کښې نارامې جوړوې او دبلې خوا نوې خپلواک هیوادونه لمسوې ډار اواندېښنه ورته پیدا کوې او دطالبانو دحکومت سره ئې په جنګ اچوې حال داچې طالبان یو سوله خوښونکې ځواک دی. دهیواد په سلو کښې د ۹۰ څخه په زیاته خاوره کښې دسر او مال امن راوستی دی. دمرکزی اسیانو و خپلواکو هیوادنو ته پکار دی چې دروسې واکمنو لمسون چې ورونه هیوادونه په جنګ اچوې ونه منې او د افغانستان د اسلامي امارت سره چې ډیر څه ئې ورسره شریک دی خپل ګډ مفادات د منطقې دښکیلاکي ځواکونو په مقابل کښې دفاع کړي او د نړۍ دنورو منطقو په شان په یوه اقتصادی ټولنه کښې راټول شي.

ستوری دامریکا څخه دیوه سوله دوست هیواد په توګه وغوښتل چې دسولې په خاطر د طالبانو سره خپلې لانجې دیوې ګډې جرګې له لیاری حل کړي. پښتانه په زور جنت ته نه ځې خو په خوښه دوزخ ته ځي. دطالبانو دحکومت دګوښې کولو څخه بې لدې چې جګړه اوږده شي نورڅه لاس ته نه راځي زور ئې اولس ته وزې دسولې او خبرو له لیاری ښه اغیزه کیدلې شي چې په افغانستان کښې دجنوبي ګاونډي اسلامي هیواد په شان یوه ډیر ګونډیزه پارلماني اولسولي مینځ ته راشي چې ددایمي امن اوسوکالي تضمین دی.

ژبه او کلتور د قام او وطن په ابادۍ کښې مهم رول لوبوی، لدې امله د پښتنو ټولنیزاولسولیز ګوند د خپلې ژبې او کلتور پر مختګ خپله بنسټي دنده ګڼي.

[د PSDP د منشور څخه]

دپښتونولي، ټولنولي او اولسولي د پښتنو د ټولنیزاولسولیز ګوند تاداو او بنسټ جوړوي.

[د PSDP د منشور څخه]

پښتنو ټولنیز اولسولئیز ګوند د ټولو اولســـونو د خوداراديت او خپلواکي د حق دفاع او ملاتړ کوي او استعمار په کلکه سره غندي.

[د PSDP د منشور څخه]

**دفکر، نظریو، مظاهرو، جلسونو او اتساب ازادي بې د رنګ، نسل، ښځې او نر د امتیاز څخه د پښتني ټولنیزې اولسولي بنسټي غوښتنه ده.**

[د PSDP د منشور څخه]

**ازادي، عدالت (انصاف) او ورورولي د پښتني ټولنیزې اولسولي غوښتني دي.**

[د PSDP د منشور څخه]

کـه سپوره وي کـه پوره په شریکه به وي (باچا خان)

Das Brot, ob belegt oder troken, wird unter allen gemeinsm aufgeteilt

(Batscha Chan)

Butterd or unbutterd bread will be common

(Bacha Khan)